# خوشحال بابا د خطاط په حیث

## Khushal Khan Khattak as a Calligrapher

عبدالکریم عامر*

**Abstract**: *Khushal Khan Khattak was a genius personality whom services for Pashto language are very obvious. He made Pashto literature prolific through his valuable works which includes both poetry as well as prose writings. Apart from being a poet, warrior, and intellectual, Khushal khan was also an expert of art of writing. Although hitherto we have no valid proof which represents his art of writing. Any how, the writer of this paper for the first unveils and proves Khushal Khan Khattak having known the art of writing quoting assorted arguments from his writings.*
*This paper will elevate a new chapter of discussion in future.*

خوشحال بابا د ډېرو هنرونو خاوند دی. د ژوند د ډېرو اړخونو یو داسې ترجمان دی چې پښتانهٔ به ئې په ډېر زیار او دقیق نظر رابرڅېره کوي. د خوشحال د بالغ نظرۍ چې کومه سطح مونږ ته په مخه رائځي. هغه د اوسني علمي دور د پښتو لوستونکو ته یقیناً ډېرې لارې ور په برخه کوي چې هر څوک ئې په خپله ذهني کچه باندې څېړلی شي خو بیا ئې هم وسعتونو ته رسېدل د یوهٔ لوستونکي کار نهٔ دی. د خوشحال علمي او هنري زاوئې د پښتو نه بلکې د نورو ژبو د لوستونکو دپاره هم د یوې اکېډمۍ حېثیت لري. له تېرو څلور سوه (۴۰۰) کلونو څخه خوشحال یو داسې نوم دی، چې ډېرو ذهنونو قبول کړی دی. له افضل خان ختهک څخه رانیولې بیا د اوسني وخت د خوشحال د مطالعې د ماسټر، ایم فل او پي ایچ ډي تر لوستونکي پورې هر چا په خپله ذهني کچه باندې په یوه یوه جلا جلا موضوع باندې پېژندلی دی او و نورو ته ئې هم ور پېژندلی دی. خو بیا هم د خوشحال علمي ادراک د اختتام تر حده نهٔ دی رسېدلی، بلکې نور هم پر مخ روان دی. اوس هم ډېر داسې موضوعات شته، چې

---

* Lecturer, Government Degree College, Loralai

هغـه خوشـحال بابـا راوړي دي، خـو څېـړل شـوي نـهٔ دي. خوشـحال بابـا د نـورو ليکوالـو سـره د پرتلـه (موازنـه) کولـو پـه ايسـته پـه خپـل ځـان کښـې داسې پراخي لـري. چې هغـه پراخي د هـر ليکوال پـه برخـه نـهٔ وي. دغـه علمـي پوهـه، پراخـي او هنرونـه د دهٔ د ځانګړتيـاوو داسـې اعلٰـى نمـونې دي، چـې دی ئـې د ادب پـه يـو ډېـر اوچـت مقـام بانـدې کښـېنولی دی. او هـر څېړونکـی ورته ګوته په غاښ دی.

زهٔ د خوشـحال بابـا پـه يـو داسـې هنـر څـهٔ ليکنـه کـوم، چـې د هغـو دلائلـو لـه رويـه مـونږ دی د خطـاطۍ پـه هنـر بانـدې هـم پـه اصـولي توګـه خبـر ګڼلـی شـو. يـو خطـاط کېـدل او بـل پـه خطـاطي پوهېـدل دي. چـې دوه رنګـه ئـې دي. دخطـاط انـدازه بـې د خـط لـه نمـونې نـهٔ شـي کېـدی، خـو د خطـاطۍ پـه لوازمـاتو خبرتيـا د يـو چـا پـه اړه د هغـه د هنـري زده کـړې انـدازه ښـهٔ پـه اسـانه کېدی شي.

د ډېـرو هنرونـو خاونـد خوشـحال بابـا يـو خطـاط هـم وُ کـه يا؟پـه دې اړه پـه کتـابونو او ليکنـو کښـې څـومره کـار شـوی دی، و دې طـرف تـه کـه مـخ را و ګرځـوو. د خوشـحال بابـا پـه ژونـد او فـن بانـدې بېخـي زيـات کتابونـه او ليکنـې شـوې دي، چـې د ټولـو احاطـه کـول پـه دې سـبب هـم ګـران کـار دی، چـې د هغـو تـر لاسـه کـول امکـان نـهٔ لـري، "د دغـو اثـارو او ليکنـو شمېرتر ۲۰۰۰ پورې اټکل شوی دی".(۱)

خـو پـه پـورتنۍ موضـوع بانـدې پـه چـاپ شـوو مقـالو او کتـابونو کښـې څـهٔ نـهٔ دي ليکـل شـوي، د دغـو ټولـو مقـالو او کتـابونو نومونـه ورکـول بـه د مقـالې د طوالـت باعـث وګرځـي ځکـه د دغـو نومونـو پـېش کولـو نـه ځـان يـو طرف ته ساتو او خپلې موضوع طرف ته راځو. خوشحال بابا وائي چې:

"کـه د نظـم کـه د نثـر کـه د خـط دی
پـه پښـتو ژبـه مـې حـق دی بـې حسـابه
نـهٔ پـه خـوا پکښـې کتـاب وُ نـهٔ ئـې خـط وُ
دا دی مـا پـه کښـې تصـنيف کـړل څـو کتابـه"(2)

د خوشحال بابا د املااو خوشخطۍ د ذوق په اړه ډاکټر راج ولي شاه خټک ليکي:

"خوشحال بابا په "دستارنامه"کښې خوش خطي د کمال کسب يا فن ګڼي، نو خامخا به هغهٔ دا فن هم زده کړی وي".(3)

په مخ د "ښاغلي حبيب الله رفيع" په حواله ليکي چې:

"د کابل د پښتو ټولنې سره د خوشحال خټک د خپل لاس ليکلی يو ديوان موجود دی. کوم چې هغهٔ د ژوند په اخري شپو ورځو کښې د جينا کوړ حسن خېل افريدو په يوهٔ کلي کښې ليکلی دی"(4).

ښاغلی وائي:

"ګوهر خان د خپل کتاب قلب السير په مقدمه کښې مونږ خبروي. چې افضل خان د خوشحال بابا خوارهٔ وارهٔ تصنيفات او تاليفات راغونډ کړل،د هغوی د نقلونو کولو دپاره ئې کاتبان رااوبلل او د يو يو اثر ئې پرې څو نقلونه تيار کړل. د دې نه داسې ښکاري چې د خوشحال ديوان د خوشحال بابا د وفات نه پس افضل خان راټول کړی او ترتيب کړی دی. بهر حال د ښاغلي حبيب الله رفيع خيال او د پښتو ټولنې ديوان په خپل ځای بيا هم اهميت لري او د تحقيق وړ دی. که چرې دغه ديوان د خوشحال خټک د خپل لاس ليکلی هم وي نو د يو خوشخطه کاتب په حېث هم د خوشحال بابا په دې فن کښې کمال ؤ. دغه ديوان په نستعليق کښې ليکل شوی دی"(5).

افضل خان له کومو نسخو څخه په کاتبانو نور نقلونه تيار کړل؟دا به خامخا د خوشحال بابا له لاس ليکلو نسخو سره تړلي وي. د ښاغلي رفيع صاحب له وينا داسې ښکاري چې دا ديوان په خطِ نستعليق کښې خوشحال بابا په خپله ليکلی دی،او د يو ښهٔ خطاط رنګ ئې په کښې څرګند دی. د پښتو اکثره زړې نسخې په نستعليق خط ليکل شوې دي. تر څو پورې چې مونږ ته د خوشحال بابا د لاس ليکلی يو بل ليك مخې ته نهٔ وي راغلی تر هغو پورې په کلکه د هغهٔ د لاس ليک په اړه څهٔ نهٔ شو

وئېلـي. د خوشـحال بابـا د خطـاطۍ د فـن پـه اړه لیکـوالان د "دسـتارنامه" څخه حوالې رااخلي، کومې چې د خوشحال بابا د خط د خوبۍ په اړه دي.

محمداسـماعیل یـون پـه خپـل کتـاب کښـې د"لیکګر(خطـاط) خوشحال" تر سر لیک لاندې لیکنه لري. هغه لیکي چې:

"خوشـحال نـۀ یـوا‌ځې یـو ښـۀ خطـاط ؤ، بلکـې د خـط هنـر پـه ارزښـت او ماهیت هم ډېر ښۀ پوهېدۀ". (6)

د اسـماعیل یـون حـوالې هـم لـه "دسـتارنامې" څخـه دي، پـه کـوم کښـې چې خوشـحال بابـا د خطـاطۍ د فـن پـه اړه لیکنـه کـړې ده. بلـه څۀ حوالـه نـۀ شـته. چـې پـه هغـه د خوشـحال بابـا د خطـاط حېثیـت پـوره څرګنـد شـي. پـه "دستارنامه"کښـې خوشـحال بابـا د قلـم سـازول،د تـراش برابـري، د قـط د معلومولو دپاره د نقطې لیکل، که سمه پرېوته نو قط برابر دی:

پـه "دستارنامه"کښـې مـونږ تـه خوشـحال بابـا د خطـاطۍ پـه ارزښـت خبـره پـه مخـه راځـي. ځکـه چـې خطـاط دلیـک کولـو پـس معلـومیږي. د لیـک پـه ارزښـت ږغېـدل دفـن پـه اړه پوهـه راښـیي. د خوشـحال بابـا پـه نثـر کښـې د خطاطۍ د فن او هنر په اړه حوالې ذکر شوو لیکوالانو راوړې دي.

خوشـحال بابـا علـم او خـط لازم او ملـزوم ګڼـي. د لیکلـو دپـاره د هـر حـرف د کښـلو زده کـړه د کاتـب پـه تعلیـم پـورې تـړي. او څـوک چـې مشـق زیات کوي د هغۀ خط به پخیږي. وائي:

" د "خـطِ نسـتعلیق" چـې اوس مشـهور دی دوسـو تېرسـو کالـه وشـول د میر سېد علي وضع او اختراع دی". (7)

د پـورتنۍ حـوالې نـه دا خبـره را ډاګـې تـه کیـږي چـې خـطِ نسـتعلیق دخوشـحال بابـا ډېـر خـوښ ؤ. او د حبیـب الله رفیـع حوالـه هـم د خـط نستعلیق ده، چې خبره یو ځای ته رسوي.

زۀ دلتـه د خوشـحال بابـا د شـاعرۍ څخـه هـم داسـې نمـونې راوړم چـې پـه هغـه کښـې د دۀ د خطـاطۍ پـه فـن بانـدې پوهـه څرګنـدیږي. کـه زمـا تـر لیکنـې لـه مخـه د چـا پـه دغـه اړه لیکنـه پـه همدغـه دلیلونـو بانـدې خپـره

شـوې وي، نـو زۀ خپلـه ليکنـه لـه هغـې پـس د اشاعت وړ نـۀ ګـڼم، کـوم معلـوم مواد چې زما لاس ته راغلي دي، په هغو کښې داسې څۀ ما نۀ دي ليدلي.

پـه يـوه ربـاعي کښـې وائـي، چـې د محنـت او مشـقت وروسـته پـه سـړي کښـې د ښـۀ تيـر انـداز او ښـۀ خطـاط خـوبي پيـدا کېـدی شـي، ځکه دا دواړه هنـره لـه ډېـر رياضـت وروسـته پخيږي، کـه نـۀ وي نـو نـۀ څـوک ښـۀ تيـر انـداز جوړېـدی شـي، او نـۀ ښـۀ خطـاط. دلتـه داسـې ښـکاري چـې پـه دغـه دواړو هنرونوبانـدې خوشـحال بابـا پـه خپلـه ښـۀ زيـار ايسـتلی دی، او لـه خپلـې تجربې وروسته داسې ګويان شوی دی:

"غشـي چـې ډېـر ولـي ښـۀ تيـر انـداز شـي
چـې مشـق د خـط کـړي و خـط تـه ساز شـي
کــــار د محنــــت دی د مشــــقت دی
ورو ورو پـه هـر هـر هنـر ممتـاز شـي"(8)

پـه يـوۀ هنـر خبـر څـوک هـر کلـه د هغـه هنـر پـه اړه پـه جسـتجو کښـې وي. شـاوخوا ئـې نظـر وي او هغـه هنـر لټـوي، کـه ئـې پيـدا کـړي نـو پـه خـوبۍ او خـامۍ ئـې سترګې ټپـروي. د ښۀ هنـر منـد خـوبي داده چـې هغـه د بـل ښـۀ هنـر منـد هـم سـتاينه کـوي. صـرف ځـان تـه د ښـۀ هنـر خاونـد نـۀ وائـي. خـامۍ ئـې هـم پـه داسـې توګـه پـه ګوتـه کـوي چـې پـه هغـه کښـې د اصـلاح اړخ لـه ورايـه ځرګنـد وي. خوشـحال بابـا د بـل د ښـۀ خـط هـم هرکلـه صـفت کـوي. د ښـۀ خطـاط معتـرف دی، دا هـم وائـي چـې پـه کاتبـانو کښـې هـم فـرق دی، څـوک ښـۀ ليـک کـوي، څوک ښـۀ نـۀ کـوي. د ښـۀ ليـک کاتبـان پـه ليـک کښـې نـۀ سـره جـلا کيـږي، ځکـه چـې هـر يـوۀ پـه خـط کښـې دومـره زيـار ايسـتلی وي. چـې خـط ئـې سـره جـلا کـول ګـران شـي. لـه دې څخـه هـم داسـې ځرګنـديږي چـې خوشحال بابا يو ښۀ خطاط او د خطاطۍ په هنر په اصولي توګه خبر ؤ:

"مګــر چــې کښــل کــا دا کاتبــان دي
واړه خــوش خــط کښــي ســره يکســان دي
ځينــې مشــکنې کښــي ځينــې کنجکــې

د چـــا تـــر درو حرفونــــه ګـــران دي"(9)

پـه ځرګنـده توګـه ئـې پـه خپلـه شـاعرۍ کښـې دا وئېلـي دي چـې کـه څـوک د ښـهٔ خـط خاونـد نـهٔ وي هغـه د ړانـدهٔ پـه مثـال دی،او دا هنـر ئـې پـه خاصـو هنرونـو کښـې ګڼلی دی. او بې هنره ته له عقله خلاص وائي، شعر دی:

"چـې خبـر پـه هنـر نـهٔ هغـه کـم عقـل
چـې د خـط سـترګې ئـې نـهٔ وي هغـه کـور"(10)

د خـط د خـوارۍ او د خطـاط د تیـارۍ سـختۍ ئـې هـم پـه نظـر دي او داسـې ښـکاري چـې پـه خپلـه ئـې دا مرحلـې تېـرې کـړې دي. ځکـه ئـې پـه شـاعرۍ کښـې د مثـالونو پـه رنـګ کښـې هـم دغـه خـواري ذکـر کـړې ده. چـې د دهٔ په خپل ذات کښې د خطاطۍ د هنر د موجودګۍ ځرګندونه کوي:

"اول فکـــر د زړهٔ وکـــړه بيـــا وئېـــل کـــړه
کاتبـــان د ښـــکو پخـــوا وهـــي مســـطر"(11)

د قلـم د قـط پرېکونـه او سـمونه ځـان تـه يـو جـلا هنـر دی. ډېـر خطاطـان دقلـم د قـط پـه جوړولـو کښـې خپـل عـذر ځرګنـدوي،او پـه دغـه اړه د بـل يـوهٔ لاس تـه ګـوري. اوڅـوک چـې پـه دغـه هنـر هـم پـوه وي نـو هغـه بيـا خپـل قلـم بـې قطـه نـهٔ پرېـږدي. داسـې ځرګنـدېږي چـې خوشـحال بابـا دغـه هنـر هـم پـه خطـاطۍ کښـې زده کـړی ؤ،او د قلـم قـط ئـې جـوړولی شـو. د قلـم سـمول او سـر ئـې د قـط پـه انـدازه پـرې کـول هـم د خوشـحال بابـا د خطـاط کېـدو دلالـت کـوي. د بـل د هنـر پـه ليـدلو پـه انسـان کښـې دننـه کېفيـت هغـه شـان نـهٔ ځرګنـدوي، بلکـې کـه ډېـر وکـړي، نـو د بـل د هنـر سـتاينه وکـړي او داد ئـې ترخولـهٔ ووزي. کـه څـوک پـه خپلـه هغـه هنـر لـري او پـه تمثيلاتـو او تشـبيهاتو کښـې لـه هغـه هنـره کـار اخلـي نـو دا ځرګنـده خبـره ده چـې هغـه هنـر بـه ئـې خامخـازده کـړی وي،او وربانـدې پـوهيږي بـه هـم. دا مثـالونـه ئـې پـه خپلـه ځرګندونه کوي:

"راشه سر مې پرېکړه لابه ښهٔ شم په وفا کښې
خود په دا پوهېږې قلم لاښهٔ شي له قطه" (12)

"د خپل يار و تېغ ته سر کښېږده خوشحاله!
د قلم خوبي هاله ګڼه چې قط شي"(13)

"مصلحت ئې په هر قط کښې د خوبۍ دی
کاتبان چې قلم نهٔ پرېږدي بې قطه" (14)

خوشحال بابا د ښهٔ خط ليکلو قايل دی، او د بې ډوله خط غندنه ئې کړې ده. دا هم هغه ماده ده چې په خپله ئې په ځان کښې لري، نو ځکه ئې د بل شخه هم هغه توقع ساتلې ده. کله کله خطاط صرف د خط په لوازماتو باندې خبروي خو په املا باندې نهٔ پوهيږي چې زده کړه ئې ضروري ګڼلې ده. ډېر کله د خطاط په املايي تېروتنو باندې خلق هم په بېلو نظريو باندې و وېشل شي. اوبېلې لارې پيدا کړي. دا داسې دليلونه دي چې د خوشحال بابا د خطاطۍ په هنر باندې په پوره توګه د خبرتيا دلالت کوي. په" فضل نامه "کښې په يوه مثنوي کښې وائي:

ور دې نهٔ شي دوه لاسه
نهٔ تر خط نهٔ تر قرطاسه
يو چې خام بېهوده خط کښي
بل که ښهٔ کښي چې غلط کښي
خدای ئې واخله که ښهٔ خط کښي
که ئې ځای په ځای غلط کښي
د خبروپيوند کړونې
د جګر وينې خوري وينې
چې هر حرف سره پيوند کا
د جګر په وينو شخوند کا(15)

په "سوات نامه "کښې چې خوشحال بابا کومه هجوه "درويزه" او"مخزن"په اړه کړې ده. په هغه کښې داسې ښکاري چې د سوات خلق په

دې لــه خوشــحال بابــا خفــه شــوي دي. او د "میــاں نــور" پــه مشــرۍ کښــې ئــې بحــث ورســره کــړی دی. دهغــهٔ د کتابــت پــه اړه وائــي چــې دهٔ ماتــه لــه مخــه هــم کتابــت کــړی ؤ، چــې هــیڅ علمــي دلیلونــه پــه کښــې نــهٔ وو. د ســرلیک پــه اړه ئــې دا وایــم چــې د میــاں نــور د خوشــخطۍ څخــه هــم پــه نــارو دی،او دا ثــابتوي چې د دهٔ نهٔ صرف ښهٔ خط خوښ ؤ بلکې په پوهېدو هم.وائي:

کتابـــــت ئـــــې لاپخـــــوا ؤ راتـــــه کښـــــلی
مشـــــتمل پـــــه جهالـــــت ؤ ناپســـــندلی
نــهٔ ئــې خــط نــهٔ ئــې امــلا نــهٔ ئــې انشــاء وه
فضــولي ئــې خپلــه کښــلي پــه مــلا وه (16)

خوشــحال بابــا پــه خپلــه کــورنۍ کښــې هــم د ښــهٔ خــط خاونــدان ســتایلي دي. او دهغــو نومونــه ئــې ذکــر کــړي دي. د"دغــواص د کــال وبا"پــه ویرنــه (مرثیــه) دخپــل نمسي"ســرفراز" چــې د ســعادت خــان زوئ ؤ، د خپــل ښــکار ســپی ئــې لېــونی شــوی ؤ.دی ئــې خــوړلی ؤ. لاعلاجــه شــوی او مــړ شــوی ؤ. دهغــهٔ پــه اړه وائــي چــې دقــرآن پــاک حــافظ ؤ،او پــه خــط کښــې هــم ښــهٔ ؤ،یعنــي د ښهٔ خط خاوند ؤ:

"ســـــــــــــرفراز د ســـــــــــــعادت ؤ
ښـــــهٔ نمســـــی مـــــې ؤ زېبـــــا
هـــــم حـــــافظ د درســـــت قـــــرآن ؤ
هـــــم پـــــه خـــــط ؤ بـــــې همتـــــا"(17)

پــه یــو غــزل کښــې د خپــل مخــالف زوی" بهــرام خــان "د خــط پــه اړه هــم وائــي چــې عطــارد دې نــور لــه لاســه قلــم کښــېږدي،چې بهــرام دغــه کــار تــه مــخ کړځولی دی:

"عطـــارد دې نـــور قلـــم لـــه لاســـه کیـــږدي
چـــې پـــه دا خـــوبۍ بهـــرام انشـــاء امـــلا کـــا"(18)

اوس بـه یـوه داسـې رباعي هـم د خوشـحال څېړنـې ولوسـتونکو تـه کښـېږدم چې پـه هغـه کښـې ئـې د حرف"الـف"د خطـاطۍ اصـول او قاعـده هـم ښوولې ده:

ځـوک چـې خبـر شـي د خـط لـه خونـده
قلـم بـه نـۀ ږدي پـه حـرف بـې بنـده
شـماره د نـورو حرفونـو ځـو کـړم
چـې یـو الـف دی پـه درې پېونـده (19)

د خطـاطۍ اصـول داسـې دي، چـې "قـط"د قلـم و هغـه برخـې تـه وئېـل کیـږي پـه کومـه برخـه چې لیـک کیـږي. یعنـي د قلـم پـرې کـړې یـا برابـره کـړې برخـه لـه یـوۀ سـره تـر بلـه سـره پـورې قـط ګڼـل کیـږي. د قلـم قـط چـې څـومره وي،د خطـاطۍ اصـول د هغـه قلـم پـه قـط ولاړ وي پـه کـوم قلـم چـې لیـک کیـږي. پـه پـورتنۍ رباعي کښـې خوشحال بابـا هـم دغـه خبره کـوي.چې څـوک یـو وار د خطـاطۍ پـه اصـولو خبـر شي هغـه بـه یـو حـرف هـم بې اصـوله و نـۀ لیکـي. د"الـف" قطونـه ئـې هـم پـه کښـې ښـوولي دي،چـې درې دي. پـه خـط نسـتعلیق کښـې اصـول داسـې دی،چـې "الـف" پـه اوږدوالي(جـګ یعنـي ولاړ) درې قطـه وي. او د پلنـوالي طریقـه ئـې داسـې ده چـې "الف"بـه دقـط نیمـی وي.یعنـي نـیم قـط بـه د "الف"پلنـوالی وي. د"الف"لـوړ سـر بـه پـه کینـه خـوا بانـدې پـرې وي،او لانـدې سـر بـه ئـې پـه ښـۍ خوابانـدې پـرې وي. دا پرېکونـه بـه تـر یـوۀ قـط کمـه او تـر نـیم قـط زیاتـه وي. دا ډول دخـط نسـتعلیق "الف"بشـپړه کیـږي. یعنـي پـه اوږدو درې قطه،پـه پلنـوالي نـیم قـط وي. دې قط ته بند هم وئېلی شو. لکه خوشحال بابا چې استعمال کړی دی.

اوس بـه د خوشـحال بابـا د خطـاطۍ د هنـر پـه اړه ډېـره ښـه انـدازه شـوې وي. چـې خوشـحال بابـا د خطـاطۍ پـه لوازمـاتو بانـدې نـۀ صـرف خبـر دی بلکـه مـاهر ئـې هـم دی. دنورو خط ئـې هم پـه نظر کښـې وي، د ښـۀ خط سـتاینه ئـې کـړې او د بـد خـط غندنـه ئـې کـړې ده. د افسـوس خبـره داده چـې مـونږ تـه پـه پـوره تحقیـق د خوشـحال بابـا د لاس لیـک پـه لاس نـۀ دی راغلـی. ګنـې پـه دغـه اړه بیا نوره هم ښه پرېکړه کېدی شوه چې دی د کومې پائې خطاط ؤ؟

حبیب الله رفیع لیکي چې:

" د پښتو ټولنې په کتابتون کښې د خوشحال بابا د دیوان د دۀ تر مړینې یو کال له مخه لیکل شوې نسخه شته چې په ۱۰۹۹ هـ ق کښې لیکل شوې ده" (20) (ذکر ئې پورته شوی دی)

له دې په ایسته وائي :

"د دیوان ډېرې نسخې ئې د هېواد او نړۍ په بېلوبېلو کتابتونونو کښې شته "(21)

. د دغه نسخو په اړه هم پوره څېړنه په کار ده چې کومه نسخه د چاپه لاس لیکل شوې ده. "استاد زلمي هېوادمل "په خپلو کتابونو کښې ډېرې نسخې ښوولې دي. چې د خوشحال بابا دلاس لیکلې نسخه تر اوسه نۀ ده څرګنده شوې.

زۀ په خپله په دې عقیده یم چې خوشحال بابا چې د خطاطۍ په لوازماتو خبردی نو خطاط هم ضرور دی. د اولنۍ خبرې دلیلونه خو لرو مګر د دویمې خبرې پخلی به نۀ یم خبر تر څوپورې پاته وي.

❀❀❀

حوالې

(1) يـون ، محمـد اسـماعيل ، انـديال خوشـحال ، يـون کلتـوري يـون چاپ۱۳۸۷ل، مخ 116.

(2) ختـك، خوشـحال، خـان ، ارمغـان خوشـحال، د سـيد رسـول رسـا پـه زيار، دوېم چاپ ۲۰۰۱ ء پېښور،مخ 754.

(3) ختـک ، راج ولـي شـاه، ډاکټـر - "د پښـتو ادبـي تحريکونـه، پښتو اکېډمۍ چاپ ۱۹۸۹ء، مخ 168.

(4) هم دغه، مخ 169.

(5) هم دغه، مخ 170.

(6) يون ، محمد اسمعيل - "انديال خوشحال" مخ 111.

(7) ختـک ، خوشـحال خـان – دسـتارنامه، پښـتو اکېـډمي پېښـور يونيورسټي، ۱۹۹۱ ء ،مخ 140.

(8) ختك، خوشحال خان ، ارمغان خوشحال، مخ 276.

(9) هم دغه،مخ ۲۹۴.

(10) هم دغه ، مخ 366.

(11) هم دغه، مخ 382.

(12) هم دغه، مخ 411.

(13) هم دغه، مخ 586.

(14) هم دغه، مخ 412.

(15) هم دغه، مخ 972.

(16) هم دغه، مخ 1029.

(17) هم دغه، مخ 51.

(18) همدغه مخ 328.

(19) هم دغه 126.

(20) رفيـع ، حبيـب الله "پښـتو قلمـي نسـخې"- پښـتوڅېړنې، پښـتو ټولنه کابل، مخ 373.

(21) هم دغه، مخ 373.